مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاه جان هاجره حرکت ۲۰۲۲/۱۱/۱۶

غزل

چې دا ټیټې شملې پورته له شمشاد کړي
داسې مشر میرویس خان به څوک راپاڅي

چې بیا وتړي په ننګ د افغان توره
ننګیالی بل خوشال خان به څوک راپاڅي

چې دانه، دانه افغان سره یو لاس کړي
داسې بل ستر احمد خان به څوک راپاڅي

د هېواد ابادیدل چې یې ارمان وي
دا رنګ فکر د امان به څوک راپاڅي

د غیرت چغه یې پورته کړي له خوبه
د ملالې د غږ توان به څوک راپاڅي

زرغونه او نازو دواړه به پرې ویاړي
ننګیالې زوي د افغان به څوک راپاڅي

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ